# گنج مرجان پښتو "نادره خطي نسخه"

**Ganj-e-Marjan(Pashto Rare Manuscript)**

ډاکټر حبيب الرحمان حبيب زوی*

**Abstract:**

Ganj-e- Marjan is one of the rare manuscripts of Pashto literature traced in 2016 in the Data Ganj Bakhsh Library Islamabad by the author for the first time. No one has mentioned such manuscript 'name in all Pashto manuscript's catalogue yet. This manuscript focuses on meta physics and homeopathic knowledge in poetic form. Although Ganj-e- Marjan has some religious thoughts for spiritual and material treatment of human as well. The poet of Ganj-e- Marjan is Akbar. Poet of this manuscript introduces himself in verses as well. The correct date of authorship of Manuscript is unknown yet.

**Keywords: Ganj-e-Marjan,** Pashto Rare Manuscript, Data Ganj Bakhsh Library.

گنج مرجان پښتو خطي نسخه له دوو ليدلورو څخه د نادرو نسخو په کتار کې راځي.لومړی دا چې د دې نسخې ذکر تر دې مهاله د پښتو مخطوطاتو په هيڅ يوه فهرست کې نه دی شوی،دويم نومړې نسخه ځکه هم نادره ده،چې په موضوعي لحاظ پښتو مخطوطات تر ډېره په ديني مسأيلو راڅرخي او د ماروا الطبيعت Metaphysics موضوعات څېړي،تقريباً دغه چلند په پښتو لرغوني خطي نسخو کې معمول او عام دی،گنج مرجان بيا نيمه جلا لاره غوره کړې او د پښتو د محدودو خطي نسخو په څېر يې په طبابت او کورني درملنې Homeopathic باندې زړه راښکونکي منظوم ابيات لري،په څنگ کې يې د انسان د مادي او معنوي سکون او روغتيا لپاره ديني -عقيدوي تعويذونو سپارښتنه هم کوي او د نسخې په پای کې د ښې خلاصې په موخه د لمانځه په ښېگنو د خپلې رسألې خاتمه کوي.

لومړی به د دې وړې خو مغتمې نسخې جوليز جزيات وڅېړو او بيا به په خصوصياتو يې هم رڼا واچلول شي.

جزئيات"

" ناظم : اکبر

د خطاطۍ کال : نامعلوم

خطاط: نامعلوم

خط: نستعليق

کاغذ: هندي

---

* Associate Professor,Head of the Foreign Research Institute ,Academy of Sciences of Afghanistan,Kabul

د مخونو شمېر: ۴۸
د هرمخ کرښې: ۲۵
کچه: ۱۴x۲۵
د متن کچه:۸x۱۹
پوښ: ګته جوړ
کتابتون: داتا ګنج بخش
د کتابخانې نمبر : ۱۹۰۲
موضوع : طبابت"(۱).

**خصوصیات**:

"دا منظومه نسخه په ساده ډول لیکل شوې ده ،لکه څنګه چې پورته جزیاتو کې یادونه وشوه،د دې وړې رسالې د لیکلو کال نه دی څرګند او همداشان دا هم وویل شول،چې دغه نسخه په نستعلیق لیکل شوې ده،نو له دې اړخه مونږ کولی شو دا زبات کړو،چې نوموړې نسخه په کومو کالونو کې اټکلًا نظم شوې ده.تر کومه ځایه چې د نستعلیق خط د دود ېدو او پښتو کې یې د کارېدو موضوع تر بحث لاندې ونیول شي،نو لومړی اړ یو،چې دا ومومو چې نستعلیق خط کله را منځ ته شوی دی.نستعلیق خط ډېر په فارسي متنو کې دود دی او د پارسي کتابت تر ټولو ښکلی خط دی،دا خط د هجري-قمري اوومې پیړۍ په پای او اتمې پیړۍ په پیل کې رامنځ ته شوی دی"(۲).

نستعلیق خط د خپل ښکلیتوب او اسانتیا له امله پښتو کاتبانو پام ځانته را اړولی و او په دې ډول پښتو کاتبانو پښتو آثار په نستعلیق کښنګ کښلي دي،له دې څخه جوتیږي،چې پښتو کوم خطي نسخې په دغه کښنګ لیکل شوي دي د لیکلو کال یې تر اوومې پېړۍ ور اخوا نه اوړي،په دې توګه مونږ ویلی شو،چې ګنج مرجان له اتمې پیړي را وروسته د لیکلو او کتابت کال یې اټکل کېدای شي.

یو بل د پام وړ ځیز چې مونږ د دې نسخې په جزیاتو کې ښوولی،هغه د کاغذ نوعه ده،چې ګنج مرجان نسخه په هندي کاغذ لیکل شوې ده.د کاغذ بڼه او د هندي کاغذ مخینه به هم دلته وڅېړو،ځکه په ډېرو خطي نسخو کې د کاغذ بڼې یادونه کیږي،خو تفصیل یې نه وړاندې کیږي.

" د کاغذ په اړه ویل کیږي،چې لومړی ځل په چین کې د Cia Lun لخوا په ۱۰۵ز کې کاغذ اختراع شو. چینایانو د کاغذ جوړولو اختراع پټه ساتلې وه،خو په شپږمه پیړۍ کې د بودایي راهب دام چینګ لخوا دغه اختراع جاپان ته راوړل شوه،عربانو په ۷۵۰میلادي کالونو کې د کاغذ د صنعت په وده کې ونډه واخیسته،دا کار هغه مهال وشو،چې د بغداد پاچا دوه چیني کاغذ جوړونکي ونیول او بندیان یې کړل او بیا یې د دوی په مرسته

د کاغذ کارخونه جوړه کړه.په ۱۱ میلادي پیړۍ کې د کاغذ صنعت د عربو لخوا لومړی هسپانیې ته او بیا ټوله اروپا کې خپور شو"(۳).

"په هند کې د کاغذ د صنعت او هندي کاغذ په اړه بېلابېل نظریات،ویل کیږي،چې د کاغذ جوړولو صنعت هند ته د تبیت- چین او نیپال له لارې د اوومې میلادي پیړۍ په منځ کې راغلی دی،دا هغه مهال و،چې بودایي راهبانو د نظریاتو د تبادلې لپاره په ازاده توګه د تبیت له لارې چین ته سفرونه کول"(۴).

هندي کاغذ لکه څنګه،چې پښتو ډېري خطي نسخې پرې لیکل شوي اوسنی بڼه یې دا مهال لږې تر سترګو کیږي،دا چې پښتو خطي نسخې په هندي کاغذ لیکل شوي دي،یو علت یې دا هم کېدای شي،چې د هند د نیمې وچې او پښتنو تر منځ یو ستر تاریخي پیوستون او تړاوو شتون درلود او لا تر اوسه یې لري، د افغانستان تاریخي خاورې پولې د مارګلې له غرونو وراخوا وې او هند ته د پښتنو تګ او راتګ ډېر عام و،هند د هر ډول صنعت په برخه کې پرمختللی و،نو ځکه پښتنو کاتبانو په اسانه سره هندي کاغذ تر لاسه کاوه او مخطوطات یې پرې لیکل.

"هندي کاغذ نخودي،شکري او خړ رنګونه لري،د انګریزي او روسي کاغذ په پرتله شفافیت،روښوالی او ښویوالی نه لري کاغذ یې زیګ او پنډ دی"(۵).

خلاصه دا چې ما چې د داتاګنج بخش د کتابتون پښتو مخطوطات څېړل په دغو نسخو کې نوي سلنه نسخې په هندي کاغذ کښل شوي دي.

د "ګنج مرجان"ناظم اکبر نومیږي، اکبر نامی ناظم په زړو پښتو نسخو کې غالباً ډېر کم تر سترګو کیږي یوازې د برېټانیې د کتابتونو د قلمي نسخو په فهرست کې یو بل اکبر هم معرفي شوی دی.

"د برېټانیې د کتابتونو د پښتو نسخو فهرست جوړونکي سره له دې چې د اکبر دیوان معرفي کوي،خو دی وایي چې د ناظم نوم مې په نظم کې ونه موند او زیاتوي،چې نوموړي دیواني شاعر دی او دولسمې هجري قمري پیړۍ پورې یې اړوند بولي"(۶).

د «ګنج مرجان» ناظم په خپلو نظمونو کې د خپلې رسالې او خپل نوم یادونه داسې کوي او وایي:

" ته یې یاد کړه که پرې خوښ یې
خصمانه کړه که نرکښ یې
ما «اکبر» له کتابونو
له څو نوعو څو بابونو
درته وو قال څما دی
ورځ دې ښه شه عمل ستا دی

د رسالې په پای کې د رسالې د نوم ذکر یې داسې کوي:

دا کتاب «ګنج مرجان» و
نوراني عجب روښان و
له انشأ په دوه ویشت بابه
جمع شه له څو کتابه

د دې نسخې د کاتب او خطاط په اړه کره معلومات نشته،خو د پښتو ډېرو خطي نسخو کاتبان خپله د نسخې لیکوال دي.د دې نسخې پنځونکی اکبر نامی دی،چې مونږ د پښتو کاتبانو په نومونو کې د اکبر په نامه کس پیژنو هم،خو دا ویل ګران دي،چې ګواکې د دې نسخې کاتب به هروهرو همدغه اکبر نامي وي.اکبر شاه پېښوری د پښتو کاتبانو په کتار کې راځي،چې ژوند ځواک زمانه یې نولسمه عیسوي پیړۍ ښودل شوې ده"(۷)

اوس راځو تاسو رابولم د دې نسخې یو لړ نظمونو ته،چې د نسخې له پیل،منځ او پای څخه غوره شوي دي.

"**پیل**:

علم دوه قسمه یادېږي — عاقلان په دا پوهېږي
یو د دین یو د بدن دی — مقدم علم د تن دی

قال علیه الصلوة واسلام العلم علمان الفقه في الادیان و علم الطب في الابدان

پاک نبي حدیث ویلی — علم دوه قسمه راغلی
اصل علم د دوا دی — چې دا دین موقوف په دا دی
به جوړ تن عبادت کېږي — رنځوران کله توانېږي
ځکه زه یو څو اقسامه — دارو نمایم نیک فرجامه
هم دارو هم توکل کړه — بدي نه لري اتکل کړه
که بوغمه دې په وجود شي — ورک د تاځېنې بهبود شي
ته ترخه هند وانه ګوره — هریړي غتې درې وروره
مرچ پوره ورغوي صاف کړه — هندوانه په مېنځ شګاف کړه
مغزې نیم واخله دلی کړه — بیا اوه وار ګولۍ کړه
هره ورځ یوه یوه خوره — قند شربت کړه ورسره خوره
دانیم نوره وقند ګولۍ کړه — دغه هم ورپسې زرۍ کړه
که کریم کرم اظهار که — ستا بوغمه به تار په تار که
که په کیدو کښې بچه وي — روان کرنک په کښې کچه وي

**مېنځ**:

ته يې ياد کړه که پرې خوښ يې
خصمانه کړه که نرکښ يې

ما اکـــــــبرله کتابونو
له ځونوعو غوځو بابونو

درته و و قال زما دی
ورځ دې ښه شه عمل ستا دی

اوس بيان د تعويضات کړم
د افسون د هر حاجات کړم

توفيق غواړمه له مولانه
چې مې ورانه شي ودانه

که هندو که مسلمان وي
په تعويض باندې شادان وي

تعويض(تعويذ) هر څه له پکار دی
د هر چا پرې پوره کار وي

غوږ په دا کېږده اې مرده
خدای دې وساته له درده

که دښمن که څه بلا دي
تعويضونه يې شفا دي

که ديوان دي که پيريان دي
له تعويضه ګريزان دي

چې خوندي په دا قلا شي
هر زحمت تر يوه خوا شي

و مولاته کار تفويض کړه
له رنځوره مل تعويض کړه

مدد غواړه له بزرګانو
دوی کيميا لري يارانو

**پای** :

نستعين مستقيم شماره
بل وړ نبي عليهم ياره

بــــل اوم ولاالضالين دی
بيرانه ځـــــنې امين دی

که څـوک وقف په الحمد که
دُلل هـــــله له ده ضم که

ياچـې وقــف په للا که
بيا هــــــــرب پسې اداکه

يا دمه په رب العاَ که
لمين پس پسې ادا که

يا وقف په ايا که
بيا کنعستين ادا که

يا په آه وقف وه کاندي
د نـــص پسې ترې اداکاندي

يا ټيکاوو په مقضوب شينه
بِـعلي پـــــسې واشينه

نـمونځ فاسد شي پداواړه
معنى لـــــفظ وران شو دواړه

او هغه چې څوکه ګو يان دي
دا نومـــــونه د شـــيطان دي

بد ويل کـــوي دوي دا
دا الـــــحمد ده شــــفا

دا «کتاب ګنـــج مرجان» ده
نوراني عـــجب روښان ده

له انشأ په دوه ويـشت بابه
جـــــمع شه لـــه څوکتابه

تمت تمام شد کارمن نظام شد

پورتني ابياتو جوله د مثنوي بڼه لري،په دې معنا چې د نظم هر بيت يې جلا جلا يو رديف او قافيه تعقيبوي او د بيت هره مصره يو ډول قافيه او رديف لري. په دې ډول مثنوي د نظم هغه صنف دی،چې د بيت دواړه مسرې يې هم وزن،هم قافيه او يا هم رديف وي".(۸)

د ګنج مرجان ابيات که وکتل شي،نو ټول يې نظم دی،په ورته بڼه پرته د حميد مومند له شريعت الاسلام څخه ټولې هغه خطي نسخې،چې ديني مطالب يې بيان کړي د مثنوي نظم په شکل ليکل شوي دي. ګنج مرجان کې تر ډېره هڅه شوې،چې د دارو درملو نسخه په ساده او روان نظم بيان کړي او نومورې دا چاره ډېره ښه تر سره کړې ده.

که چېرې په پښتو منظومو متنو کې و کتل شي،نو د ګوتو په شمار طبنامې شته،چې ښه بېلګه يې د خوشحال خټک طبنامه ده،چې د ګنج مرجان ته په ورته بڼه د رنځونو او دردونو لپاره درمل معرفي کوي،خوشحال خان خټک په خپل طبنامه کې شاخوا د ۵۲رنځونو د درملنې لپاره کورنۍ درملو وړانديز کړي او بيا په جلا جلا عنوانو کې يې د بېلا بېلو بوټو ګټې ښوولي،چې د انسان روغتيا لپاره اړين دي.د خوشحال طبنامه هم په خاتمه کې د ګنج مرجان په څېر لاربښودي صحي او معنوي مسايلو په اړه سپارښتنې کوي.

تاسو ربولم د خوشحال خان د طنامې يوې ورې برخې ته،چې د ناسور د ټپ په اړه وايي:

له ماهي که استخوان کړې
په آتش کې يې بريان کړې
په آتش کې يې ميده کړې
چې ښه توره يې ايره کړې
د کونځلو تيل پيدا کړه
غه ايره په کې حلوا کړه
څه خو پورې په ناسور کړې
يو څو ورځې دا ضرور کړې
خدای به روغ کړه ستا ناسور
دی شافي دی هم غفور(۹).

په پای کې وويل شي،چې «ګنج مرجان» منظمه خطي نسخو د پښتو نادرو قلمي نسخو څخه يوه ده،چې تر دې دمه چا پرې کار نه و کړی،ما يې يوازې تعارفي پېژندنه وکړه او بويه چې د دې نادرې نسخې په ټوله کې متن د علمي او اکاديميکو دودونو له مخې وڅېړل شي او د معاصر ليکدود په چوکاټ کې دې خپور او چاپ کړای شي،زه ډاډمن يې د دې نسخې چاپ او خپراوی به د پښتو متن څېړنې په ډګر کې يوه ډېره پر ځای او کارنده اضافه وي.

## حوالې

۱-حبیب زوی،عبدالرحمان،د داتا ګنج بخش د کتابخانې پښتو مخطوطات-تحقیقي او تنقیدي جایزه،د پي ایچ ډي ډیزرټېشن،ناچاپ،پېښور پوهنتون،پښتو اکېډمي، ۲۰۲۰، ۴۰۶مخ.

(2) https://nastaliqonline.ir/Khatati/khatati/nastaliq-history/

(3)https://papyruspapers.com/blog/%D8%AA%D8%A7%D8%B1%DB%8C%D8%AE%DA%86%D9%87-%DA%A9%D8%A7%D8%BA%D8%B0/-

(4)https://en.wikipedia.org/wiki/History_of_paper

۵- دوست شریف الله، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتوخطي نسخو تحلیلي څېړنه،د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د علومو اکاډمي،الهام نبي زاده مطبعه،کابل، ۱۳۹۹، ۴۱۰مخ.

۶-شهسوار،سنګروال،د بریتانیې په کتابتونونو کې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه، دویم چاپ،افغان ادبي جرګه لندن، ۱۳۹۱، ۱۵۳مخ.

۷- عامر عبدالکریم.کاتبان،لومړی ټوک،نیو کالج پبلیکشنز رجسټرډ کوټه، ۲۰۱۷، ۱۷۷مخ.

۸-مجروح یوسفزی،مشتاق.زرکانی،یونیورسټي بک ایجنسي،دریم اشاعت،پېښور، ۲۰۱۰، ۱۵۱مخ.

۹-خټک،خوشال خان،د خوشال خان خټک کلیات،اوډنه،پرتلنه،سمون او وییپانګه عبدالقیوم زاهد مشوانی،دانش خپرندویه ټولنه،پېښور، ۱۳۸۴، مخ۷۰۳.